


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیټه : 14 می 2023 میلادی

# د مور غیږه!

کان د شفقت مو د مور غیږه ده
غیږه د رحمت مو د مور غیږه ده

خوږ نظر يې کم مه شه له موږ ځنې
مینه محبت مو د مور غیږه ده

مور ده چې د زړه دنیا ودانه ده
روح مو دی نعمت مو د مور غیږه ده

موسکي شونډې ورین تندی لپه دعا
دنیا او آخرت مو د مور غیږه ده

پېښې يې ښکلوه که ته جنت غواړې
ملیاره برکت مو د مور غیږه ده

***

عبدالحفیظ « ملیار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org